**(3) کنه ضمیمه**

**د وردګ علمي او څېړنيزې مجلې لپاره د مقالو ادبي مرور طرزالعمل**

| شماره | موضوع | | شرح |
|---|---|---|---|
| 1 | د طرحي هدف | | ✓ د علمي مقالو د ليکلنې او ادبي کتنې سهولتونه رامنځ ته کول<br>✓ د ليک دود او ادبياتو له نظره د علمي مجلې د معياري کيدل<br>✓ په ملي او بين المللي کچه د معياري مقالو ترتيبول |
| 2 | **د مقالې د منلو شرطونه** | | |
| | د مقالي د ليکو ژبه | | د مقالي د ليک ژبه بايد ملي وي.<br>مقاله بايد ( پښتو، دري يا انګليسي ) ژبو و ليکل شي. |
| | **د ليک دود قواعد** | **د ليک دود نښې** | په ژبې کې دصحيح ليکلو او لوستلو له پاره د ليک دود قواعد او اصول مراعات کول اړين دی .هره ژبه ځان ته خاص سيستم، قواعد او اصول لري که چيرې د جملو په جوړولو کې د ژبې قواعد، اصول او سيستم په نظر کې ونه نيول شي، نو کومې جملې چې د ليک له پاره جوړيږي هغه به بې معنا او بې مفهومه وي. د ليک دود نښې لکه: کامه(،)، ټکی (.)، څند نښه(؛)، څرګند نښه (:)، لوی، منځني او کوچني قوسونه ()[]{}، پوښتن نښه(؟)، غبر نښه (!)، ټنګار نښه(ـــ) او داسې نورې د ليک دود نښو په خپل ځای کارولو ته بايد پوره پام شوی وي. رياضيکي، فزيکي، کيمياوي سمبولونو او واحدات د نړيوالو معيارونو او سيستمونو سره سم په ملي ژبو وليکل شي، خو که چيرې کوم سمبولونه او واحدات په ملي ژبو د حروفو او سمبولونو په مستعاره بڼه د فهم وړ نه وي، نو هماغه نړيوال شکل ليکل يې غوره دي. خو د علمي مقالې نور اړوند ارقامو د ملي ژبو سره سم وليکل شي. |
| | | **املاء او انشا اصطلاحات** | د املأ، انشأ او د اصطلاحاتو په صحيح بڼه ليکل د درک او فهم زياتوالي او ژبې د ليک دود له اړينو برخو څخه ګڼل کيږي، نو بايد د علمي مقالو کليمات او اصطلاحات په خپله اصلي صحيح بڼه ليکل شوي وي او د کليماتو اړين بيلوالي لپاره د ليک دود سر سم يوه فاصله، متصل بغير له فاصلي او نيمه فاصله په پام کې نيول شوې وي. د نور ژبو کليمات په مستعار ډول د ملي ژبې په توريو او خپله د بلې ژبې اصلي کلمه په قوس کې ليکل شوي وي. |
| | | **جملې** | د سلاست، ښه درک او د مفهوم د غوره او پوره انتقال په موخه د ژبو په ليک دود کې د جملو ترکيب او کليمات په خپل ځای کارول ډير اړين |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ګډل کېږي، نوځکه د علمي مقالو د جملو او متن لیکلو پر وخت د جملو په ترکیبي جوړښت کې د فعل، فاعل او مفعول ځایونه رعایت او پوره پام کې نیول شوی وي، همدارنګه د جملو په ترکیب کې د مبتدآ او خبر برخې منظمې او د فهم وړ وي. په جملو کې مناسب صفات، مصدرونه، د ربط حروف، پیوستون کلیمات، مختاړي او وروستاړي په خپل وړ ځایونو کارول شوي وي. په جملو کې بې ځایه غیر منطقي لنډ والي او درازولې مخنیوی شوی وي. د روان لوستلو او درکولو په موخه د جملو د لیکلو سبک صحیح او منظم ترتیب ولري.<br>ګونګې اضافي تکراري، بې ځایه جملو نه وي لیکل شوې. په پښتو جملو کې پنځه واړه یاګانې په صحیح ډول لیکل شوي وي او همدارنګه منفي، مثبتې او بیانیې جملې په پوره روښانه بڼه لیکل شوې وي. په جملو کې د مفرد او جمع ضمایر او اسمونه پخپلو مناسبو ځایونو کې کارول شوي وي. |
| | | **پراګرافونه** | د علمي مقالو پراګرافونه د موضوع د محتوا او حمایوي او پایلې اخیستنې د جملو په رعایت سره تنظیم شوي وي، د پراګرافونو د غیر منطقي اوږدوالی او لنډلوالي نه مخنیوی شوي وي. د موضوع اړوند پروګرافونو یوالی او تسلسل ساتل شوی وي. د پراګرافونو جلاوالی یا د دوه پراګرافونو ترمنځ د توپیر په موخه لومړۍ کرښه د پراکراف د نورو کرښو سره توپیر ولري. |
| | | **د سر لیکونو ډلبندي** | د علمي مقالې سرلیکونو یا عناوینو ډلبندي د لیک دود د قواعدو حتمي برخه ده، نو باید د لیک دود له قواعدو او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې دعلمي مجلې د شکلي طرزالعمل مطابق ترتیب او تنظیم شي. |
| | **د علمي تخصصي ژبې رعایت** | **علمي مقالې اړوند اصطلاحات** | د علمي مقالې متن کلیمات اواصطلاحات د ځانګې او موضوع سره باید مناسب تړاو ولري. په علمي مقالو کې د ناوړه، غیر متناسبو، محلي او د ملي ژبو یا مقالې د لیک ژبې پرته د نورو ژبو کلیمات او اصطلاحاتو نه وي لیکل شوي. که په ملي ژبو کې بدیل نه وي په هغه صورت کې لاتیني اصطلاحات د نورو ژبو کلیمات او اصطلاحات په مستعاره بڼه داسې ولیکل شي، چې د ملي ژبو د لیک دود سره سمون ولري. علمي نومونه د نړیوالو معیارو په بسټ په صحیح بڼه لیکل شوي وي. |
| | | **د علمي غیرمرتبط اصطلاحات** | په علمي مقالو کې باید له اړتیا پرته د نور ځانګو او برخو غیر مرتبط اصطلاحات ونه کارول شي، خو که چیرې کارول یې اړین وي، نو د کارولو |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ځای پوره دقیق، روښانه او مناسب وي او د موضوع د اصلي محتوا درک او پیغام پرته له کوم شک ولیږدول شي. |
| | | د اصطلاحاتو استعمال | د علمي مقالي د متن د جملو په ترکیب کې نامفهومه او متناقض کلیمات او اصطلاحات نه وي کارول شوي. د عامیانه، محلي کلیمات او ډیر تکراري ناوړه او غیر سوچه کلیماتو نه وي استعمال شوي. که په ملي یا د مقالې د لیک دود په ژبو کې د علمي او غیر علمي کلیماتو اواصطلاحاتو معادل کلمیات او اصطلاحات شتون ولري، نو د غیر علمي کلیماتو او صطلاحاتو پوره مخنیوی اړین دی. |

**نوټ:** هره مجله د موجوده او منطقي دلایلو په اساس د دې طرز العمل په محتوا کې د تائید او تنقیص اختیار او صلاحیت لري.

ترتیب کوونکی: محمد داوود دانش
د علمي مجلې عمومي مدیر

تائیدکوونکی: پوهنیار زاهدالله زاهد
د څېړنو او علمي مجلې آمر

منظورکوونکی: پوهنمل دکتور عنایت الرحمن مایار
د علمي او محصلانو چارو مرستیال